# په پښتو ژبه کې د لومړنيو ښوونځيو تعليمي نصاب او زده کړه

## Curricula and learning of early days schools in Pashto language

بيت الرحمن*

**Abstract:**

Children are the important and valuable part of society, which has its own special position and they should have this high position in any society. A child also have emotion, feeling, love and wishes whatever the people's rights is, children are equally included. In today's world children's education should be more important than any other government agenda, since they are our future's asset therefor, attention to children education should be number one priority of any government. Moreover they should be thought all ethical values; compassion and rights of others etc. so later in life, they don't run to any difficulty or problems. The parents and education official should take the responsibility to manage proper education so they don't have hardship in the future and facilitate the prose of children's education to complete it. Children are the foundations and base of any society if the responsible people don't pay attention to this matter then they will face consequences of negligent later on since you can't build a solid building on the swamp.

**Keywords:** whatever, priority,hardship,negligent,consequences.

ماشوم د ټولنې د يوې سترې او مهمې برخې په توګه خپل ځانګړی ځای او مقام لري او هره ټولنه خپل ځان ته يوه خاصه لري ، چې په کومه ټولنه کې د ماشومانو څومره ارزښت ا و په کومه ټولنه کې يې څومره ارزښت دی، ماشوم هم خپل احساسات،عواطف، مينه ، هيلې ، غوښتنې او ارمانونه لري، په ټولنه کې چې څومره حق د زوړ اوځوان دی هم هغومره د ماشوم هم دی ؛ نو پکار ده چې په ټولنه کې څومره حق لويانو ته ور کول شوي وي هم هغومره ماشوم ته هم ورکول شي چې په اوسنۍ نړۍ کې د کوچنيانو ادبيات او زده کړه د ځانګړي دريځ لرونکي دي او د کوچنيانو ادبياتو ته بايد زياته پاملرنه وشي ځکه چې نوی نسل بايد سر له همدا اوسه له انساني ژوند ، عاطفي اومعنوي اړخونو سره سره وروزل شي او د انسانيت په ارزښت ښه پوهه شي تر څو راتلونکي ستونزو ته دپای ټکی کېږدي . په دې برخه کې بايد د لويانو لوی لاس وي او د دوی راتلونکی داسې تنظيم کړي چې په راتلونکي کې د ستونزو سره لاس او ګريوان نه شي چې دا هم په حکومتونو او والدينو پورې اړه لري چې د تعليم او تربيې په برخه کې بې غوره

* PhD. Scholar، University Of Peshawar Pashto Academy.

پاتې نه شي او په درست شکل سره زده کړه تر سره کړي او سمه زده کړه په سم تعلیمي نصاب سره تر سره کېږي تر څو چې تعلیمي نصاب سم نشي نو سمه زده کړه نه تر سره کېږي .

**اصله موضوع** :

که څه هم په دې دوره کې ماشوم ښوونې او روزنې ته اړتیا لري چې په دې وخت کې د ماشوم ذهن د سپین ټوکر په شان وي ، چې هر رنګ په اسانۍ سره اخلي او که خراب رنګونه واخلي نو پاکول يې څه اسانه کار نه دی ، نو که موږ د نړۍ ځواکمن هیوادونو ته وګورو نو ډېره پاملرنه يې د ماشوم روزنې لپاره کړې ده . ځکه د ټولنې بنسټ ماشومان جوړوي ؛ نو که چېرې بنسټ او تهداب ته پاملرنه ونه شي نو خواري به مو بې ځايه وي ځکه چې کوږ بار تر منزله نه رسيږي. تر اوسه پورې زموږ په ټولنه کې ماشومانو ته ځوک د دده حق نه ورکوي او نه د دې بنسټ او تهداب په اړه بنيادي کارونه شوي دي، نو لومړی بايد موږ خپل تعليمي نصاب جوړ او بيا يې ټولنې ته وړاندې کړو ، چې په دې سره موږ بيا کولای شو چې سمه او سالمه ښوونه او روزنه خپلو ماشومانو ته وروښايوو ، ځکه ټول په دې ارزښت پوهيږي چې يوه ټولنه د ماشوم په روزنه او د عالي شخصيت په جوړونه کې ستر رول لوبوي.

نو که چېرې په يوه ټولنه کې ماشوم په سمه او درسته توګه له فکري ، عاطفي ، روحي او اخلاقي پلوه پياوړي متوازن او با اراده وروزل شي ؛ نو د يوې سالمې با عدله او سوله ييزې ټولنې لپاره لاره هوارېږي ، د نړۍ ټول ارواپوهان په دې عقيده دي چې د يوه انسان د شخصيت بنسټونه دده د عمر په لومړيو کلونو کې ايښودل.

چې ددې موخې د ترلاسه کولو لپاره په لومړي سر کې بشپړ تعليمي ته اړتيا ده ، نصاب يعني څه او يو نصاب بايد څنګه او په کوم ډول وي چې دې پوښتنې ته لاندې ډول ورځو:

> "هر هيواد په خپل تعليمي نصاب باندې وخت په وخت د زمانې د غوښتنې او د خپلې ټولنې د اهدافو او ارزښتونو سره سمه نوې کتنه کوي او د نوي او اغيزمن ميتود سره يې بيا خپلې ټولنې ته وړاندې کوي . د نړۍ د دوهمې جګړې نه وروسته اکثره هيوادونو د خپلو اړتياوو له مخې خپل اهداف وټاکل او د هغو اهدافو په رڼا کې د خپلو ښوونځيو په تعليمي نصاب باندې نوې کتنه وکړه ددغو اهدافو په خوا کښې يې دوه اصلي هدفونه د ښوونځيو په تعليمي نصاب کښې شامل کړل." (1)

۱ـ د زده کوونکو د استعدادونو د څرنګوالي روزنه.

۲ـ د يوې عصري ټولنې غوښتنې او اړتياوو سره سم د ښوونځيو د اهدافو د تعليمي نصاب طرحه.

نو دلته لازمه ده چې د تعليمي نصاب په اړه يو څه ووايوو چې تعليمي نصاب څه ته وايي ؟ د څه له پاره پکار دی ؟ او موږ ترې څنګه کار واخلو .

**د تعليمي نصاب تعريف (پېژندنه)**

١ـ تعليمي نصاب د تغيير او بدلون يوه دوامداره پروسه يا عمليه ده.

٢ـ تعليمي نصاب د يو شمېر هغو مضامينو څخه عبارت دی چې زده کوونکي يې د ښوونکو څخه په ښوونځيو کښې مطالعه او زده کوي.

"نو د تعليمي نصاب له پاره ډېر تعريفونه شوې دي؛چې موږ يې دلته يوه يادونه وکړه. همدارنګه په تعليمي نصاب باندې ډېر لګښتونه کېږي. نو د هر هيواد په تعليمي نصاب نوې کتنه د هغه هيواد په مالي توان پورې اړه لري. هغه هېوادونه چې شتمن دي په تعليمي نصاب ژر ژر کتنه کوي او سمونه په کښې راوړي او د نوي ميتودونو سره يې خپلې ټولنې ته وړاندې کوي او هغه هېوادونه چې شتمن نه وي، نو په تعليمي نصاب باندې يې کتنه ډېر وخت نيسي." (2)

" په همدې لحاظ ويلاي شو چې تعليمي نصاب يوه دوامداره عمليه ده او دا تعريف دومره جامع نه دی ځکه په دې کښې چاپېريال او د زده کوونکو روحيه چې په زده کړه کې مهم رول لري په نظر کښې نه دي نيول شوې. د تعليم او تربيې د علماو د نظر سره سم تعليمي نصاب د هغو ټولو لارو او قاعدو څخه عبارت دی، چې د يوې تعليمي مؤسسې او ځانګې له خوا پيشنهاد کېږي او تعليمي نصاب هغه فعاليتونه دي چې ښوونکي د هغوی په اجرا کولو مکلف ګڼل کېږي. تر څو د تعليم او تربيې هدفونه پر مخ بوځي او هم دارنګه په زده کوونکو کښې علاقه او دلچسپي را ژوندۍ کړي او د يو عصري ژوند په لوري ورته لارښوونه وکړي، نو د لومړنيو ښوونځيو تعليمي نصاب بايد دومره پراخه او وسيع وي چې د ژوندانه ټول اړخونه او خواوې په کښې ځای کړی شوې وي او د پوهې وړ وي او په يوه محدوده ساحه کې قيد نه وي او يوائې د زده کړې او پوهې وړ وي او معرفۍ ته چمتو وي او معرفي شي، تر څو چې کوچنيانو سره د ځان پېژندنې او په ښوونځي، ټولنه، ملت او نړۍ کښې د فعالې برخې اخيستلو وسيله وګرځي. البته هر هيواد ځانته ځانګړي اهداف ارزښتونه او اړتياوې لري او د خپل کلچر او ثقافت موقيعت او نورو کلچري عواملو له مخې خپل تعليمي نصاب جوړوي او بيا ورباندې نوې کتنه کوي. که د يو هيواد د ښوونځيو درسي کتابونه او تعليمي نصاب د هغه هيواد د اکثره وګړو د اړتياوو او موجوده منابعو سره سمون ونه لري څرګنده ده چې دا ډول درسي کتابونه او تعليمي نصاب به د هغه هيواد لپاره هيڅ ګټهور نه وي". (3)

جاپان کله چې په خپل تعليمي نصاب نوې کتنه کوله، د نورو اهدافو په خوا کښې يې د ښوونځيو په تعليمي نصاب کښې د صنعت برخه زياته کړه نو که د جاپان تعليمي نصاب چې

ډېر زور يې په صنعت اچولي وي په يوه بل هيواد کښې چې اړتيا او منابع يې سره توپير لري او يو ډول شرايط و نه لري د تطبيق وړ نه دی او نتيجه به يې مثبته نه وي.

ځيني اصول او ميتودونه چې په نورو هېوادونو کښې يې نتيجه ښه او مثبته وي او په بل هيواد کښې د تطبيق وړ وي بايد تشويق او تحريک شي او کار پرې وشي د هيواد په شرايطو برابر ورڅخه کار واخيستل شي د يو هيواد تعليمي نصاب د هغه هيواد د ښوونې او روزنې د ټولو محتوياتو يوه برخه ده . نو کله چې تعليمي نصاب جوړېږي او يا پر هغه کتنه کېږي نو لاژمه ده چې تجربه لرونکي ښوونکي ،څېړونکي نظارت کوونکي د ښوونې او روزنې اداره کوونکي ، د تعليمي جوړونکي. والدين او د ساپوهنې او يا د کوچنيانو د نمو او ودې متخصصين برخه ولري او د ماشومانو عمر په پام کې نيولو سره او د هر سن او عمر له پاره جلا جلا تعليمي نصاب جوړ شي او دغه تعليمي نصاب بايد د کوچنيانو د اړتياوو سره سم او د زده کړې وړ او په زړه پورې وي او ماشومان په اسانۍ سره پرې زده کړه وکړي.

همدا رنګه په تعليمي نصاب کښې بايد په اهدافو باندې تاکيدوشي ،د لومړنيو ښوونځيو په تعليمي نصاب کښې بايد فعاليتونه په ځانګړي توګه دارنګه نه وي ، چې د زده کوونکو څخه وغوښتل شي چې هغه حافظې ته وسپاري بلکې داسې لار ې چارې په کښې وي چې زده کوونکي دا اهداف څرنګه تر لاسه کړي او زده کوونکي متجسس وروزي همدارنګه تعليمي نصاب بايد زده کوونکو ته علم ،پوهه ، د نورو مفکورو روزنه ، معقول سلوک او ښه عادتونه ور زده کړي او د ټولنيز ژوند وسيله يې وګرځوي. هغه عوامل چې د تعليم او تربيې با صلاحيته وګړي يې د ښوونځيو تعليمي نصاب په بيا کتنه کښې پر مخ وړي په لاندې ډول دي:

۱ـ بايد د عملي زده کړې په نتيجه کښې د ټولنې د انکشاف د چټکتيا او د خلګو د ژوند په ټولو برخو کښې بدلون راشي او زاړه نصاب څخه غوره وي نه بې کاره.

۲ـ دښوونې او روزنې لوي اهداف او پر مختيا منځ ته راشي او د خلګو او په خاصه توګه د ماشومانو علاقه او مينه ور سر ه زياته شي .

۳ـ په رواني ، بيالوژيکي او پخپله د ښوونې اوروزنې انکشاف سره د زده کوونکو دلا زياتو زده کړو عمليه صورت نيسي او د هر ټولګی پايله بايد څرګنده وي .

۴ـ د دموکراسۍ او بشري احساس روزنه او توسعه بايد صورت ونيسي او زده کوونکو ته د اجتماعي ژوند کولو لارې چارې وروښايې .

۵ـ کوښښ دې وشي چې ښوونه او روزنه د ټولنې د انکشاف په هدف عياره شي ښوونکي او ښوونځي دې د خلکو د عصري ژوند مؤثرې وسيلې وګرځي او د سياست له ډګر څخه دې پوره فاصله ولري او د ښوونې پر معيار دې برابرشي .

نو کله چې په کوم هیواد کښې نوی تعلیمي نصاب جوړ شي . په هغه هیواد کښې نوي درسي کتابونه د نوو اهدافو او مندرجاتو په اساس منځ ته راځي او په هر هیواد کښې هر وخت تعلیمي نصاب او درسي کتابونه یو ځای او د یوې صلاحیت لرونکې علمي کمیټې له وروستۍ پرېکړې تیرېږي ؛ نو هغه قدمونه چې د تعلیمي نصاب په نوې کتنه کښې اخیستل کېږي په لاندې ډول دي.

۱ـ د تعلیمي نصاب نوې کتنې ته د ضرورت په اساس کتنه او سمونه اړینه ده .
۲ـ دتعلیمي نصاب نوې کتنې ته چمتوالی د حکومت او اړوندې څانگې له خوا.
۳ـ د ټولنې اړتیاوو او ستونزو مطالعه کول او د حل لاره.
۴ـ دکوچنیانو د مشخصاتو او اړتیاو مطالعه کول او علمي لاره لټول.
۵ـ په چوکاټ کښې د ښوونې او روزنې اهداف راوړل او پلي کول.
۶ـ د مناسبو مضامینو او فعالیتونو انتخابول.
۷ـ دتجربه شوې زده کړې تر تیبول او د یوې واحدې مطالعې پلان جوړول.
۸ـ د نوي تعلیمي نصاب ارزیابي کول.
۹ـ د نوي تعلیمي نصاب پیل کول.
۱۰ـ د تعلیمي نصاب یوې دوامدارې کتنې ته موقع مساعدول.
۱۱ـ ماشومانو ته د لیک لوست زده کړه او د تورو زده کول .

"ماشومانو ته د لیک لوست زده کړه د ټولو نه اړینه ده ځکه چې په لو مړیو وختونو کښې ماشومان په هر لوست ښه نه پوهیږي او د هر توري ادا کول ورته ستونز من کار دی، که چیرې موږ په لومړیو وختونو کښې ماشومانو ته سخت تلفظ ورکړو ؛ ماشومان د ستونزو سره مخ کېږي . نولازمه ده چې په لومړیو وختونو کښې ماشومانو ته هغه توري ور زده کړو چې دوی ته هم په زړه پورې او هم اسان وي، نو هغه توري چې سقیل ادا کیږي باید په لومړیو زده کړو کښې ماشومانو ته ورنه کړل شي او کوم توري چې اسان ادا کېږي باید ماشومانو باندې تمرین شي او ماشومانو ته وښودل شي چې څنګه دغه توري ادا کېږي ، چې موږ کولای شو په لومړیو وختونو کې ماشومانو ته (ښواک ) کانسوننټ اوازونه ور زده کړو چې د کانسوننټ اوازونو دتلفظ په وخت کې د سا (هوا ) جریان د غړیزو غړو په واسطه په بشپړه یا نیمګړي ډول د تمښت یا بندښت پیدا کوي لکه ( ب (بوره ) برخه ، او نورې کلیمې او توري چې په اسانۍ سره اداکېږي".(4)

"نو په دې اساس د لیک لوست زده کړه د تورو ( الفبَا اوازونه ) او د تدریس پلان څو نموني راوړو . نو د پښتو او دري ژبو د تورو تدریس پروسه لړه پیچلې ده نظر

نورو ژبو ته ځکه زموږ ددغو ژبو زیات توري په کلیمو کښې څلور فعالیتونه لري، خو که چیرې موږ دغه سلسله په ترتیب سره تر سره کړو ؛ نو ماشومان پرته له څو تورو نور ټول توري په اسانۍ سره تلفظ کولای شي ؛ د پښتو غږونه د مخارجو په لحاظ په پنځو مرحلو ویشو ، کله چې زموږ ماشومان پنځه کلنۍ ته رسیږي؛ نو ټول غږونه په اسانۍ سره تلفظ کولای شي د یادولو وړ یې بولم چې په دغو پنځو مرحلو کښې ماشوم په کلي توګه ژبه زده کوي او د خپلې زده کړې مرحله په خپلواکو تورو پېلوي او وروسته بیواک غږونه زده کوي او په بیواک غږونو کښې شونډیز نسبتاً ژر زده کوي چې هغه ساده تلفظ کېږي لکه (م ، ب، پ) چې په پای کښې حلقوي غږونه هم په اسانۍ سره زده کوي".(5)

۱ـ د کلمې په پیل کښې تړلی شکل.
۲ـ د کلمې په منځ کښې تړلی شکل.
د کلمې په پای کښې تړلی شکل.
۴ـ او د تورو مستقل شکل .

((چې په لاندې مثالونو کښې یې ګورو د ((ب)) توری لاندې ګورو:

| | |
|---|---|
| د کلمې په پیل کښې | بوتل |
| د کلمې په منځ کښې | غلبیل |
| د کلمې په اخر کښې تړلی شکل | مکتب |
| په کلمې کښې مستقل شکل | اد ب |

ځینې توري دوه شکله لري "تړلی شکل او مستقل شکل) یعنې په کلیمو کښې په مختلفو موقیعتونو کښې په دغو دوو شکلو کښې راځي لکه د دال (د) توری چې په لاندې جملو کښې یې ګورو :

۱ـ دال ـ بند

همدارنګه هر توری پرته د الف له توري څخه چې څلور اوازونه لري ؛ نور اکثره توري درې اوازونه لري . لکه د الف د توري اوازونه:

احمد ـ آس ـ جلالتماب ((دوه الفو اوازونه)) الفت ـ اسلام

د ((ب )) توری اوازونه په لاندې شکلونوکښې:

بند ـ بخارۍ ـ بسم الله ـ بلال

بله خبره دا چې ځینې توري دکوچنیانو په ژبه کښې زیات د استعمال وړ دي او ځینې توري د ماشومانو په ژبه کښې لږ استعمالیږي ، لکه د عربي ژبې څو توري او د پښتو ژبې خاص توري:

عربي توري (( ق،ف ،ظ،ط او نور ))

'' د پښتو ژبې توري لکه (( ښ،ڼ،ځ،ږ )) د کوچنیانو په ژبه کښې لږ د استعمال (کارونې ) وړ دي ؛ځکه چې دا توري سقیل دي او کوچنیانو ته یې کارونه ستونزمنه ده او کوچنیان یې په سمه توګه نه شي کارولي ؛ نو په لومړیو وختونو کښې باید ماشومانو ته هغه کلیمې او تورې وکارول شي ، چې هجاوې (څپې ) یې کمې وي''. (6)

هجا :عربي کلمه ده په پښتو کښې یې څپه په انګریزي یې سلیبل او په فرانسوي کښې ورته سیلاب وایي ،په لغوي لحاظ د حروفو یا تورو شمېرلو ته وایي او یا په بل عبارت هجا د اوازونو هغه ډلې ته وایي چې د تنفس په یو وار بندیز سره اداکېږي ؛ نوماشومانو ته باید د ډېرو هجاوو لرونکې کلیمې ورنه کړو او همیشه کوشش وکړو چې ساده او د کمو هجاوو لرونکې کلیمې ورکړو.

نو په لومړیو وختونو کښې باید ددغو تورو د کارونې نه یو څه ډډه وکړو او هغه توري ادا کړو چې په اسانۍ سره ادا شي. لکه پ ،ب ،ل ، ک ، او داسې نور

''په دغه برخه کښې په افغانستان کښې د ښوونې او روزنې د تالیف او ترجمې ریاست د تعلیمي نصاب او پروګرامونو پروژې علمي غړوپه ۱۳۴۷ کال څېړنه سر ته رسولي وه، چې د کوچنیانو په ژبه کښې د تورو د زیات استعمال کارونې په اساس د Frequency له مخې یې تر تیب پهلاندې ډول ښودل شوي دی (( و ،ی ،ا ، ر، ه، ل ، ن ، ت ، د، م ، ک ،پ /،ب ،ډ، غ ، س، خ،ړ،ش،ښ،ګ،ځ، چ ،ټ، ڼ، ،ږ ش، ګ ج ،، څ ، ځ،ژ ، ذ ف ،ظ ،ق، ث، ط ''.(7)

د هغه وخت د لومړي ټولګي درسي کتابونه د پورتني ترتیب له مخې لیکل شوي وو، دا چې د هر توري تدریس باید د توري د زیات استعمال له مخې او موقیعت له پلوه او لومړی اواز بیا شکل او بیا نوم داسې تدریس شي . چې کوچنیان د توري اواز واوري بیا یې په خبرو کښې وکاروي او په پای کښې شکل تلفظ او په اسانۍ سره ولوستلی او ولیکلی شي.

'' که توري د نوم له مخې تدریس شي نو لیدل کېږي . د ((م)) اواز په مکتب کلمه کې ((م)) نه ((مم)) دلته کوچنیان مشکوک یا دوه زړې کیږي او د دوو ستونزو سره مخ کیږي چې کوچنیانو ته یې زده کړه مشکله کېږي. هر توری چې زده کوونکو ته ښودل کېږي نو باید په داسې اشنا کلمو کښې چې تصویر ولري ، بیا په کلیدي کلمو کښې پر تخته ورته ولیکل شي او ددغو تورو تدریس ته دې کوچنیان متوجه شي چې ایا ددې څخه یې څه زده کړل او کنه ماشوم ته دې د ویلو تر څنګه مانا هم ورزده کړۍ ځکه چې یوازې د کلیمو لوستل کومه مانا نه لري نو د کلمو او جملو مانا باید ورته افاده شي او کومې نښې او علامې چې په لیکنو کښې راځي ددې په مانا یې پوه

کړئ ؛ نو بیا یې د کوچنیانو د زده کړې ارزیابي وشي، د تورو په وخت کښې د کارتونو ، فلش کارتونو او چارتونو استعمال ګټور دی ، ځکه چې ددې سره ماشومان علاقه لري او نظر د وچ او کلک تدریس نه باید ډډه وشي". (8)

د تورو تدریس په درې ډوله سره تر سره کېږي.

۱۔ مرحله یې د جز نه کل ته د تورو په تدریس کښې په نظر کښې نیول کېږي . ښوونکي قدم په قدم توري یو په بل پسې معرفي کوي .

۲ ۔ مرحله د کل نه جز ته میتود دی په دې میتود کښې مطلوب توري په کلیدي پیغامونو، جملو او کلمو کښې معرفي کیږي.

۳۔ د تورو د تدریس لاره د ه چې د مختلفو میتودو په شکل تدریس کیږي.

" لکه "۱۳۵۱ کال کښې د تالیف او ترجمي د تعلیمي نصاب او پرو ګرامونو پروژې کتابونه لیکلي دي ، هر میتود یې ځانګړې پیروان لري په ټېټو ټولګیو کښې زده کړه کلمه په کلمه ده په تدریج سره متن تطبیق او د متن تعبیر او تفسیر سره د تورو تدریس د یو نموني پلان له مخې چې شپږ ورځې درسي دوران لري وګورئ" .(9)

لومړي د تدریس اهداف ټاکل شوي بیا د تدریس تر مخه مر حله ده ، وروسته د تدریس فعالېتونه مشق او تمرین او په پای کښې ارزیابي راغلې ده، چې په یو اونۍ کښې د « ی ، ح ، د » توري تدریس کېږي. باید یادونه وکړو ، چې په لومړي ټولګي کښې تدریس لاندې ټکي هم په پام کې ونیول شي: درسي فعالېتونه، انځورونه او کلیدي کلیمې، مشق او تمرین او یا تطبیق ، د لیکلو مهارتونه په نظر کښې نیول کېږي او همدارنګه دوهمه اونۍ څنګه پیل کېږي ؟

دوهمه اونۍ :

په دې اونۍ کښې زده کوونکي کولای شي چې د کیسی په ټولو اجزاو باندې پوه شي ، زده کوونکي به وکولای شي چې د « یـ خـ د » تورو د منځ شکل په کښې تشخیص تلفظ او ولیکلای شي.

**د تدریس تر مخه فعالیتونه** :

ښوونکی ټولګی په څو ګروپونو ویشي او له زده کوونکي څخه غواړي چې بیا کیسه ولولي او ټول د کیسې په اجزاوو ځان وپوهوي .هر ګروپ کیسه د یو بل په مرسته وایي او خپلې ستونزې په خپلو منځو کښې حلوي او د ښوونکي پوښتنو ته چې د کیسی د ویلو په پای کښې د ښوونکي له خوا مطرح کېږي خپل ځانونه چمتو کوي .

د تدریس فعالیتونه : ښوونکی د زده کوونکو څخه پوښتنه کوي چې پرونۍ کیسه په یاد لرئ ؟ښوونکی زده کوونکو ته داسې لار ښوونه کوي چې د کیسې ټولې اجزاوې د زده کوونکو څخه واخلي.

کیسه د څه شي په باره کښې وه ؟
په کیسه کښې ستونزه څه وه ؟
څه پیښې شول؟
د کیسې نه مو څه زده کړل ؟

ښوونکی د زده کوونکو سره مرسته کوي تر څو فکر وکړي چې نور څه واقع شوي وو ښوونکی کلیدي کلمې چې د زده کوونکو څخه اخلي، د تورې تختې د پاسه یې لیکي زده کونکي د ښوونکي هغه لیک تعقیبوي چې ښوونکی کلیمې او جملې څنګه پر تخته لیکي. زده کوونکي خپلې ویناوې دښوونکي له وینا سره مقایسه کوي . کلیمې او جملې چې څرنګه د تورو نه جوړېږي او څرنګه لیکل کېږي ، زده کوي او لاندې فعالیتونه بیا تر سره کوي ،د فعالیت ترمخه فعالیتونه ،د تدریس فعالیتونه، مشق اوتمرین،دلیکلو مهارت،د تدریس تر مخ فعالېتونه .

د خبرو کولو وده او انکشاف ، تشخیص او د هغوی د لیکلو څخه ښوونکی یو یو زده کوونکي ته یوه یوه وظیفه ورکوي چې د ټولګي د پاکوالي او اداري په باره کښې خبرې وکړي کله چې یو زده کونکی د ټولګي په مخ کښې خبرې وکړي نورزده کوونکي ورته غوږ نیسي پنځمه اونۍ :

هدفونه :

۱- زده کوونکي به وکولای شي چې کیسه تمثیل کړي.
۲- نو زده کوونکي به و کولای شي چې د خپل کتاب درې مخه متن ولولي .
۳- زده کوونکي به وکولای شي چې د خدای (ج) یو دی کلمې په تورو ووایې، همدارنګه دغه عملیه په ټولو تورو اجرا کېږي او ښه او موثره زده کړه تر لاسه کېږي او پدې ترتیب نور توري زده کوونکي په اسانۍ سره زده کوي.

**د ژبنیو فنونو تعلیمي نصاب**

تعلیمي نصاب د هغو ټولو درسي موادو،تجربو او فعالیتونو څخه عبارت دی ؛چې د یوې تعلیمي موسسې له خوا پیشنهاد کېږي او ښوونکي د هغوی په اجرا کولو مکلف دي؛چې د هغې په رڼاکې زده کوونکي ښه زده کړه وکړي.

څرنګه چې د نړۍ سیاسي رژیمونه تحول کوي علوم او فنون هم د ودې په حالات کښې دي نو د نړۍ زیاتره هیوادونه هلې ځلې کوي ، چې خپل تعلیمي نصابونه د سیاسي تحولاتو او د علومو او فنونو د پرمختګ سره سم عیار کړي ، نوي تعلیمي نصابونه ولیکي او په زړو تعلیمي نصابونو کښې اصلاحات رامنځ ته کړي .

نو موږ هم باید د پورتني اصل په پام کښې نیولو سره په خپل تعلیمي نصاب باندې نوې کتنه وکړو او د خپل دین ، مذهب ،کلتو ر ، ارزښتونو اهدافو او غوښتنو سره سم سمون ورکړو . دا به سمه نه وي چې د پردې هیواد چې دیني ، مذهبي او کلتوري ارزښتونه او اړتیاوې یې زموږ نه توپیر لري ، په خپل هیواد کښې د هغه هیواد تعلیمي نصاب پلی کړو ؛ خو موږ کولای شو هغه میتود چې په بل هیواد کښې ښه نتیجه ورکړې وي د خپل هیواد د شرایطو سره سم ورڅخه کار واخلو .

کله چې موږ نوی تعلیمي نصاب جوړوو او یا په زاړه تعلیمي نصاب کښې ښه والی راولو لاژم دي ، چې د ښوونې او روزنې پوهان ،د نصاب متخصصین ،ښوونکي ،څېړونکي ،اروا پوهان ، والدین ،بزګران ، کسبګر ، سوداګر او نور د تعلیمي نصاب د عمومي اهدافو د چوکاټ کولو په متحده ډول په دغه طرحه کښې ګډون ولري ، د ژبنیو فنونو په تعلیمي نصاب کښې باید دغه لاندې ټکي په نظر کښې ونیول شي یا ونیسو:

١ـ دهیواد اقتصادي ، ټولنیزې او فرهنګي اړتیاوې.

٢ـ د زده کوونکو علمي، ذهني، بدني، اخلاقي او د ښکلا د خوښولو اړتیاوې.

٣ ـ د ژبنیو فنونوله پاره د تدریس منظمي غوښتنې.

"د پورتنیو درې اصلونو څخه لومړی اصل د دولت د سیاسي او اقتصادي څرنګوالي سره اړیکه لري . په دوهم اصل کښې د فرد د شخصیت هر اړخیزه تکامل په پام کښې نیول کېږي . په دریم اصل کښې د ژبنی پوهنې د څېړنې او ښوونې له پاره طریقه ټاکل کېږي ، تر څو هدف ته د رسېدو لنډه لار وي . پښتني ټولنه دنورو تعلیمي نصابو د جوړولو په څنګ کښې د ژبنیو فنونو تعلیمي نصاب دجوړولو له پاره هم اړتیا لري چې د مختلفو ساحو پوهان دیوې کمیټې په بڼه د تعلیمي نصاب عمومي اهداف وټاکي او وروسته یې د ښوونې اوروزنې پوهانو ته د تدریسي کتابونو د لیکلو له پاره ورکړي ، پاتې د ې نه وي چې زموږ د پښتني ټولنې په څنګ کښې ډېرې سیمه ایزې ژبې دي دا به ښه وي چې په ټولو ژبو تعلیمي کتابونه ولیکل شي او ماشومانو ته په خپله مورنۍ ژبه زده کړه وشي ځکه چې په مورنۍ ژبه زده کړه د ماشومانو په ذهن ژر تاثر کوي او د پردۍ ژبې او یا دوهمې ژبې نه ګټوره تمامېږي او د ماشوم اوه کلنې دورې ته کوم تاوان (زیان هم نه پیښېږي او ماشومان په اسانۍ سره زده کړه تر سره کوي." (10)

خواوس زموږ په پښتني ټولنه کښې دغه کار یو ستونزمن کار دی ، زیاتره کتابونه د ماشومانو په مورنۍ ژبه نه دي لیکل شوي ، پیاوړي اقتصاد او پوهه کدرونو ته اړتیا لري او موږ نشو کولای چې په اوسنیو شرایطو کښې هغه عملي کړو؛ خو بیا هم باید دې ستونزې ته

پوره پوره پاملرنه وشي ، نو په دغه صورت کښې د ژبنيو فنونو د درسي کتابونو ليکل بايد لاندې خصوصيات ولري:

۱ـ د ژبې د درسي کتابونو په تاليف کښې دې يو ګروپ چې مسلکي او پوه غړي او د ژبې متخصصين ولري برخه واخلي.

۲ ـ د ژبې درسي کتابونه دې د يوې امتحاني دورې څخه وروسته تاليف شي.

۳ـ د ژبې د درسي کتابونو د تدريس لپاره دې دښوونکي لارښود موجود وي.

۴ـ هغه مطالب به زده کوونکي حافظې ته سپارې چې مخکې ورباندې پوه شوي وي .

۵ـ د موضوګانو او مطالبو په منځ کې دې وحدت موجود وي او بې مورده موضوګانې او مطالب دې په کتابونو کې نه راوړل کېږي.

۶ـ د کليمو او جملو کنټرول دې موجود وي.

۷ـ مطالب دې د عصر او زمانې د غوښتنو سره برابر وي.

۸ ـ په يوه لوست کښې دې ټول ژبني مطالب په پام کښې ونيول شي.

۹ـ دزده کوونکو د ابتکار لپاره دې ځانګړې پاملرنه وشي او د فعاليتونو زمينه دې ورته برابره شي.

۱۰ـ په مطالبو کښې دې د کلمو او نويو جملو تکرار وشي.

۱۱ـد درسي کتابونو مطالب او محتويات دې تاليف شي نه دا چې ديو کتاب څخه دې ترجمه شي .

۱۲ـ دعلامو او اشارو څخه دې په تدريسي موادو کښې کار واخيستل شي .

۱۳ـ د ټولو ژبنيو مهارتونو په پای کښې دې ارزيابي موجوده وي.

۱۴ـ دټولو ژبنيو مهارتونو د ودې او پراختيا لپاره دې فعاليتونه موجود وي .

۱۵ـ دتدريس په وخت کښې دې زيات وخت زده کوونکو ته ورکول شي .

۱۶ـ د کتابونو په تاليف کښې دې د محتوا دتسلسل څخه کار واخيستل شي.

۱۷ـ د جز نه دې کل ته او د کل نه دې جز ته د مخلوطو طريقو په اساس تدريسي کتابونه وليکل شي .

۱۸ـ د زده کوونکو څخه دې د لوستلو په وخت کښې د طبيعي لهجې غوښتنه وشي . نه دا چې په لوستلو کښې دې د ځانګړې لهجې غوښتنه وشي.

په عمومي ډول سره خپلې خبرې داسې لنډوو چې د ژبې د کتابونو په چمتو کولو کښې دې د هر څه د مخه د اهدافو او ارزښتونو ليست برابر او چمتو شي او د وخت د غوښتنو سره دې د نصاب تشه ډکه شي او هغه څه دې زده کوونکو ته وړاندې شي، چې زده کوونکي ورته اړتيا لري او په نورو هېوادونو کښې مخکې له مخکې عملي شوي وي ا و موږ ته يې تجربه اسانه او ګټوره وي او زموږ د ټولنې د پر مختګ سبب وګرځي او هر ماشوم ته دې په خپلې مورنۍ ژبه زده کړې ورکول شي ، تر څو وکولای شي د نورې نړۍ سره سيالي وکړي .

په دې اساس د ماشومانو د متوجه کولو یا غوږ نیولو په خاطر ځینې نورې لاربښوونې باید په کار واچول شي . چې هغه په لاندې ډول دي :

«۱- لو ست څخه مخکې د لوست لپاره تحریک.

۲- ماشوم ته د غوږ نیولو هدف ووایې.

۳- درس دې د ماشومانو د زده کړې د سویې سره برابر وي.

۴- تدریس په وخت دې اواز نه ډېر لوړ او نه ډېر ټیټ وي.

۵- ماشومان دې فعال وساتل شي او د لیدلو او کتلو توجه دې جذب شي.

۶- څه چې په تخته لیکئ باید واضح او روښانه وي .

۷- پوښتنې باید په هغوی بد تاثیر ونه کړي.

۸- ددوی اعمال دې تر څارنې لاندې ونیول شي.

۹- پوښتنې باید یو نواخته نه وي او لومړی داسې پوښتنې وشي ، چې ماشومان پرې پوه وي، چې نورو پوښتنو ته په ورین تندې تیاري ونیسي.

۱۰- پو ښتنې دې منطقي تسلسل ولري.

۱۱- درسې پلان د وخت سره سم وي.

۱۲- ښوونکو او زده کوونکو تر منځ باید ښې اړیکې موجودې وي.

۱۳- ښو ونکي باید په یوه ځای متمرکز نه وي او په ټولګي کښې متحریک وي .

۱۴- د ښوونکي پوښتنې باید خاصو زده کوونکو ته متوجه نه وي.

۱۵- ښو ونکی باید په ټولګي کښې خاص او عام ونلري « ټولو ته په یوه نظر وګورې»

۱۶- سیستم باید شاګرد محوری اوسې .

۱۷- ښوونکی باید تکړه زده کونکي تقدیر کړي، تر څو نور تشویق شي .

۱۸- ټولګی باید د تدریس لپاره جوړ وي.

۱۹- زده کوونکي باید له ښوونکي څخه بد الفاظ وانه وري .

"په دې صورت کښې کیدې شي چې زده کوونکي د زده کړې سره علاقه پیدا کړي او ښوونځي ته په مینه اخلاص او شوق سره ولاړ شي . ځینې نور مهارتونه هم شته چې د ښوونکي په اصولو کښې شامل دي چې ټول ښوونکي باید د تدریس په اصولو پوه وي تر څو د زده کوونکو مینه او خلوص د مکتب او ښوونځي سره پیداشي او ماشوم زده کړې ته وهڅول شي ځکه چې زده کړه دیو چا په رفتار کې تغیر راولي".(11)

نو پر دې اساس په لومړنیو ښوونځیو کښې د ژبنیو فنونو لپاره ځینې لارې ټاکل شوي دي چې دا یو ښکاره حقیقت دی چې ژبني فنون د پوهولو او پوهیدنې یوه وسیله ده او په زده کړه

کښې ارزښتناکه رول لري ، کوچنیان د افهام او تفهیم مهارتونه په تدریجي او په ځانګړې ترتیب سره زده کوي ،

''کوچنیان لومړی غوږ نیول او وروسته خبرې کول زده کوي او کوچنیانو ته ارزښت ورکول ددوي حق دی دوی ته باید کوچنی ، حیوان او حتی د ماشوم کلمه ونه کارول شي.'' (12)

''دغه برخه غوږ نیول او خبرې کول د پوهولو او پوهیدنې شفاهي برخه تشکیلوي د ژبنیو فنونو نورې برخې لوستل او لیکل دي چې دا برخه د ژبنیو فنونو لیکلې برخه تشکیلوي. په عمومي ډول دا برخې غوږنیول ، خبرې کول ، لوستل او لیکل د افهام او تفهیم چوکاټ جوړوي او یو د بل سره اړیکې لري د یوه مهارت زده کړه د نورو مهارتونو د زده کړې لپاره ((اسانتیاوې راوړي ؛ خو د یوه مهارت زده کړه د ا مانا نه لري چې سړی په بل مهارت حتمي تسلط ولري .د بیلګی په توګه لوستل او غوږ نیول ډېرې اړیکې لري خو لیدل شوي دي چې ډېر خلک ښه غوږ نیوونکي دي ؛ خو ښه لوستوونکي نه دي . خبرې کول او لوستل د یو بل سره نژدې اړیکې لري ، څېړنو دا ثابته کړې ده چې په لومړیو وختونو کښې د هغه چا چې د خبرو کولو مهارت کمزوری وي، هغه د لوستلو په مهارت کښې هم نیمګړتیاوې لري . همدارنګه خبرې کول او لوستل د لیکلو په مهارت کښې اغیزه لري، ژبه د ښوونځیو د ټولو مضامینو نصاب په غیږ کښې نیسي او د سمنت په نامه سره یادیږي .'' (13)

''نو باید د ژبې په فعالیتونو کښې دښوونځیو د نورو مضامینو محتویات او مهارتونه ځای کړل شي او برسیره پر دې د کوچنیانو ورځني تجارب، علاقه او مینه او د کوچنیانو انفرادي توپیرونه او استعدادونه له پام څخه ونه غورځیږي .''ټول کوچنیان ژبني فنون په یو ډول سره نه زده کوي . ځیني کوچنیان د دغو مهارتونو په زده کولو کښې ستونزې لري . او ددې علتونه او دلایل هم زیات دي ، کوچنیا ن خبرې کول د نورو څخه زده کوي کله چې نور خبرې کوي، دوی ورته غوږ نیسي او هغه په هماغه ډول له نورو څخه زده کړه کوي نو همدا علت دی چې ماشومان څه اوري هماغه زده کوي او ادبیات د دوی په روزنه کښې خاص رول لري ''. (14)

''څه چې کوچنیان اوري هماغه زده کوي که سمې خبرې واوري ، سمې زده کوي او که ناسمې خبرې واوري، ناسمې زده کوي ؛ نو په دغه صورت کښې د ښوونکي دنده داده چې د کوچنیانو ناسمې خبرې ، اشتباهات او سهوې سمې کړي ؛ تر څو کوچنیان د سمو خبرو په کولو عادت شي او همدارنګه د کوچنیانو د نویو کلمو ذخیرې ته پراخېتیا ورکړي ، پر دې برسیره ښوونکي باید د کوچنیانو سره مرسته وکړي چې خپل

افکار په سم ډول سره نورو ته اظهار کړي او ناسمې خبرې یې اصلاح کړئ ؛ نو هغه عادتونه چې کوچنیانو اخیستې وي په سختۍ سره ښوونکي کولای شي هغې ته تغییر ورکړي،ځینې کلیمې چې ناسمې ادا کوي ، لکه د ورور پرځای ولول ،یا د ړوند پر ځای لوند ،یا دلور پر ځای لول؛ نو د (ر) کومه ستونزه چې ددوي په غږونو کې ده او داسې د نور تورو ستونزه هغه باید حل شي او د پای ټکی ورته کېښودل شي ". (15)

د کوچنیانو د ښې روزنې او پالنې لپاره مشق او تمرین خپله مثبته دنده تر سره کولای شي او هغه دا چې د کوچنیانو سره د ښوونکي مباحثې او یا د کوچنیانو په منځ کښې د افکارو د تبادلې له لارې د ناسمو خبرو اصلاح تر سره شي ؛ نو لکه څرنګه چې وویل شو د غوږ نیولو مهارت د ژبنیو فنونو یو بل مهارت دي . چې ماشومان یې د لومړی سر څخه زده کوي . د مهارت په شفاهي افهام او تفهیم کښې مهم او ارزښتناکه رول لوبوي او باید دغه مهارت په کوچنیانو کښې وده وکړي.

د بېلګې په ډول کله چې یو سړی چا ته خبرې کوي ددې لپاره چې مخامخ سړی پوه شي باید خبرو ته غوږ ونیسي .کوچنیان مخکې له دې چې ښوونځی ته راشي باید د خبرو کولو او غوږ نیولو قدرت ولري . خو پته دې پاتې نه وي چې د غوږ نیولو په برخه کښې کوچنیان هم نېمګړتیاوې لري ، ښوونکي باید د کوچنیانو غوږ نیول ته وده او انکشاف ورکړي.

## حوالې

1.بهاند ،اصف ،د کوچنیانو ادبیات، دولتي مطبعه کابل ،۱۳۶۶ کال، ب مخ.
2.بانډه وال ،حسن ګل . په لومړنیو ښوونځیو کې د ژبې د زده کړې لاربښوونېاو ستراتیژي ، ۱۳۸۹ کال ختیځ بیا رغونې اداره ))۳٤ مخ .
3.بانډه وال ، حسن ګل. په لومړنیو ښوونځیو کې دژبې د زده کړې لاربښوونې او ستراتیژي، ۲ مخ .
4.شېرزاد ، محمد اقا او جمشید رشیدي، پښتو ژبه او ادبیات ، انتشارات نوېسا ، ۱۳۹۵ کال ۸ مخ.
5.حسن زی، نرګس. د ماشوم ادبیاتو لیک لار ښود ، خپرندویه ټولنه سیف د چلډرین )) ، ۱۳۹۶ل کال. ۸۶ مخ
6.شېرزاد ، محمد اقا. مورفولوژي، هند رېپرو مطبعه ، د ښوونکود روزنې لوی ریاست د پوهنې وزارت ۱۳۹۱ ل کال ، ۱۰مخ.
7.بانډه وال ،حسن ګل.په لومړیو ښوونځیو کې د ژبې د زده کړې لاربښوونې او ستراتیژي، ۴ مخ.
8.رفیق ، محمد رفیق ، دپښتو ژبې د تدریس اصول کال،کابل، ۱۳۹۴ ل کال ، ۷۵ مخ.
9.بانډه وال ، حسن ګل . په لومړیو ښوونځیو کې د ژبې د زده کړې لاربښوونې او ستراتیژي، ۵ مخ .
10.اندړ ، غلام محمد. دماشوم ادبیات او فلکلور، ښوونې او روزنې پوهنتون ، تدریسي چپټر، ۱۳۹۱کال ۱۳مخ 11.ذکي ، نصیب الله ، انکشافي اروا پوهنه، زیار خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۳ کال ، ۲۳ مخ .
12.نثار، نورالحبیب . مصور مجله، ۱۳۸۸کال لومړی کال څلورمه ګڼه ۵۳ مخ .
13.بانډه وال ، حسن ګل . په لومړنیو په ښوونځیو کې د ژبې د زده کړې لاربښوونې او ستراتیژي ، ۱۹ مخ.
14.روهي ،اناهیتا . یو ماشوم یوه نړۍ ، مصور خپرندویه بنسټ، ۱۳۹۳ کال، لومړی ګڼه ، ۲٤ مخ.
15.حسن زی، نرګس . دماشومانو ادبیاتو لیکلارښود ، ۸۹ مخ .